مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۳/۰۴/۱۹

# د ښکېلاک ګوتې

## تحجر او تیارې انځوروي

د تاریخي افغانستان له پرېکړي بدن څخه خواشیني خبرونه اورم، خدای وکړي دروغ وي.

د دوښمن دوو نویو ازموینو ته پام واړوئ، چې پوه شئ، د ښکېلاک ګوتې همدا نن هم څومره رااوږدې دي؟

یوه ملګري، څو ورځې مخکې عجیبه اشاره وکړه، وېل:

شل کاله زدکړې، د مدني ارزښتونو عامول، د بیان ازادي، د ولسواکي تمرین، ښوونځي، پوهنځي، له نړیوالو پرمختګونو خبرېدلو څخه روسته هم، ښکېلاک د ازموېنې لپاره د تحجر او تیارې دورې په راستنولو، په خپل بشري لابراتوار کې خپلې پخوانۍ تجربې وازمویيلې؛ څو پیران یې په خرو، بېوزله، بې اوبو او بې ډوډۍ کلیو او بانډو کې وګرځول راوګرځول، ساده مخلصانو هماغسې ورته بغارې وکړې، د لاسونو پر ښکلولو یې وار نه و، پیر ورته ناموسي ښکنځلې وکړې، ناستو مریدانو ورته ویل: هو کوربان دې شم! ... کیسه زړه وه او د اماني دورې تجربې تکرارېدلې.

بلخوا یې د نویو ویښتیايي - روښانتیایي جوړښتونو تر منځ ډلې ډلګۍ جوړې کړې او په کور کې یې ورته کورکي.

په هغه او دغه نامه یې یو له بل سره مخامخ کړل، چې وګوري پخوانۍ ښکېلاکي فورمولونه:

Divide and Rule

او:

Divide and Conquer

(بېل یې کړه، اېل یې کړه او ښکېل یې کړه!)

لا هم کار ورکوي که نه؟

داسې ښکاري، چې له بده مرغه:

هو، لا هم دا زړه ښکېلاکي وسله کار کوي،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

لا هم هغه څه چې یو د بل په وړاندې د ځوانانو له خولو څخه راوځي او د دوښمن په ځای یې ورور له ورور سره لاس و ګریوان کړی، مانا یې همدا ده، چې تور ښکېلاک لګیا دی، خپله زړه چاړه زموږ پر هډ هډ راکاږي او وایي:

«ببېل یې کړه!

اېل یې کړه!

او

ښکېل یې کړه!»



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ